ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

ګڼه ۱۸

نېټه: شنبه، د ربيع الاول ۸ مه ، ۱۴۴۵ هـ . ق کال




د رياســتالوزراء اقتصــادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند د روان لمريــز کال د وږي مياشتې په ۲۸مه د کابل سروبي ولسوالۍ د نغلو بند شــاوخوا کې د لس مېګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژه پرانيستله. په همدې موخه جوړو شويو مراسمو کــې د رياســتالوزراء اقتصادي مرســتيال وويل، اسلامي امارت دا درک کړې ده چې د پياوړي اقتصاد درلودو لپــاره صنعت او د صنعــت د پرمختګ لپاره برېښــنا تر ټولو مهمه ده. همدې موخې ته د رسېدو لپاره اســلامي امارت په کور دننه د برېښنا توليد په خپلو لومړيتوبونو کې نيولی او په ټولو پانګوالو يې غږ کــړی چې په کور دننه د برېښــنا توليد په برخه کې پانګونه وکړي. د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا د توليد دغه پروژه د اســلامي امارت پــه ملاتړ د خصوصي سکټور له لوري د يو کال په موده کې بشپړېږي.

د برېښــنا د چمتو کولو له پاره ځــو ټکي مهم دي. لومړی دا چې نن ســبا برېښنا په نړۍ کې ډېر زيات اهميت او ارزښــت لري. د نړۍ وګړي ان په دې باور دي چې له برېښــنا پرته ژوند اصلاً دوام نه شي پيدا کولی، ځکه د کورونو له روښانولو نيولې بيا تر صنعتي او توليدي کارخونو، ښوونځيو، پوهنتونونو، روغتونونو او حکومتي ارګانونو پورې ټول برېښنا ته اړتيا لري او ځينې خو لا داسې وســايل هم شته چې له برېښنا پرته د کار وړ نه دي. دغه راز ټکنالوژيکي وسايل خو له برېښنا پرته بې اهميته دي او کوم اهميت نه لري، ځکه که برېښنا نه وي، نو د هغو کارول هم ناشوني دي. لــه دې امله د ارزانې، باکيفيتــه او دوامدارې برېښنا موجوديت اړين دی.

اسلامي امارت د برېښنا اهميت ته په کتو په کور دننه برېښنا د توليد له پاره خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي او په دې برخه کې يې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. د سروبي دوهــم بند د جوړولو طرحه، د کجکي بند د دوهم فاز چې سل مېګاواټه برېښنا توليدوي د چارو بشــپړول، د فراه د بخش آباد بند د پاتې چارو پيلــول، د کمال خان بند چې پــه بيارغونې سره به وکولی شي له ۸ تر ۹ مېګاواټه برېښنا توليد کړي. د شــبرغان له ګازو څخه د ســلګونه مېګاواټه برېښنا توليد، د کابل ولايت په تره خېلو سيمه کې د وږي په دوهمه د ۱۰ مېګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژې تړون، د ماهيپــر فابرېکې د دوهم توربين جنراتور په اســاسي ډول ترميم او فعالېــدل او د ۲۲ مېګاواټه برېښــنا توليد او اوس د کابل د سروبي ولســوالۍ د نغلو بند سره نږدې د لس مېګاواټه لمريزې برېښنا د پروژې پرانيسته په کور دننه د برېښنا د توليد په برخه کې د اسلامي امارت ترسره شوي فعاليتونه دي چې غواړي افغانســتان په دې برخه کې پرځان بسيا او د نورو لــه احتياجه يــې خلاص او هم هغه ســلګونه مېليونه ډالر چې اوســمهال د برېښنا د پېرلو له پاره لګول کېږي، وسپموي او د نورو سکټورونو د رغولو له پــاره يې وکاروي. په دې سره به لــه يوه لوري موږ د برېښــنا له کمښت څخه خلاص شو او له بل لوري به مو صنعت پياوړی او اقتصاد به مو غښتلی شي.

# د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه



د رياســتالوزراء اقتصــادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان لمريز کال د وږي مياشــتې په ۲۹مه نېټه د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو.

د اقتصادي کمېسيون له لوري تر هر اړخيزې ارزونې وروسته پرېکړه وشوه چې کانونو او پټروليم وزارت دې د کشــک – تيرپل نفتي حوزې د جيوفزيکي سروې ګانو قــرارداد آزادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي. ياده نفتــي حــوزه د ۲۳ زره کيلومتر مربع مســاحت په درلودو سره ټول‌ټال ۱۰ بلاکونــه لري او د هرات او بادغيس ولايتونو ۱۳ ولسوالۍ رانغاړي.

په غونډه کې تر مفصل بحث وروســته پرېکړه وشوه چې د اقتصادي معاونيت د استازي په مشرۍ دې له مــلي دفــاع، کورنيو چــارو او ماليــې وزارتونو او د استخباراتو لوی رياست له مرستيالانو څخه متشکل هيئت د سټنډرډ ملي ادارې په ملتيا د هېواد بنادرو ته ســفر وکړي او هلته دې د بــې کيفيته تېلو او په ټانکرونو کې د سرباري موضــوع په هر اړخيزه توګه وڅېــړي او خپل راپور دې اقتصادي کمېســيون ته وړاندې کړي.

د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د هرات ولايت ګذرې ولسوالۍ د مسافر وړونکو موټرو د ترمينل او



فارياب ولايت د آقينې بندر تير پارک جوړولو پروژو طرحه د اقتصادي کمېسيون له لوري په پرنسيپ کې تاييد شوه. د دغې طرحې پر اساس به خصوصي سکتور له ټرانسپورټي اصولو سره سم د شاوخوا دوه ميلیارده افغانيو په ارزښت پانګونه وکړي، چې د جوړولو چارې به يې په دوو کلونو کې بشپړې او سلګونو کسانو ته به د کار زمينه برابره کړي.

د کندهار ولايت د نېش ولسوالۍ د فلورايټو کان د قراردادونو قيمتونه د اصلاح په موخه د اقتصادي کمېسيون تخنيکي کمېټې په هر اړخيز ډول څېړلې وو. د يادې کمېټې څېړنو او موندنو ته په کتو اقتصادي کمېسيون د يادو فلورايټو د فی ټن لپاره ۱۵ زره افغانۍ قيمت وټاکه.

د لغمان شاهي کانال پروژې د بشپړولو په اړه د اقتصادي کمېسيون له لوري د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ او اوبو او انرژۍ وزارتونو ته دنده وسپارل شوه، څو په ګډه د دغه کانال پاتې تخنيکي مطالعات ترسره او د يادې پروژې په تړاو خپلې دندې مشخصې کړي. د اقتصادي کمېسيون له لوري پرېکړه وشوه چې د دغه کانال د جوړولو مصارف دې د ۱۴۰۳ مالي کال په پراختيايي بودیجه کې ونيول شي.

همدارنګه د جوزجان ولايت قوش تېپې او درزاب ولسواليو ته د برېښنا رسولو په اړه د اقتصادي کمېسيون له لوري پرېکړه وشوه، چې د يو کان په بدل کې دې له مرکز شبرغان څخه يادو ولسواليو ته له ترکمنستان څخه د راتلونکي برېښنا لين وغځول شي، څو هلته د مېشتو هېوادوالو ستونزې حل او صنعت ورسره وده وکړي.

په تورخم بندر کې هېوادوالو ته د ښو خدماتو وړاندې کولو او لازمو سهولتونو رامنځته کولو په موخه اقتصادي کمېسيون پرېکړه وکړه، چې دغه ګمرک ته نږدې ۵۴۰ جريبه ځمکه دې ماليې وزارت ته تسليم شي، څو هلته ټولو اړوندو ادارو ته کارځايونه جوړ شي.

د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه چې په خوست، پکتيا، پکتيکا او لوګر ولايتونو کې دې هغه وچ د سون لرګي چې اوسمهال په موټرو کې بار او يا له خلکو سره په کورونو کې پراته دي، د يوې مياشتې په جريان کې دې په ضمانتي ډول د انتقال اجازه ورکړل شي. په همدې موخه ټاکل شوي هيئت ته دنده وسپارل شوه چې د راتلونکي لپاره دې د ځنګلونو د ساتنې په موخه يو جامع طرزالعمل جوړ او د منظورۍ لپاره دې اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي.

## در شهر کابل تا اکنون ٤٢٠٢٩ گدا جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمع آوری گدایان را در سایر ولایت های کشور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروسه که نخست از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۴۲۰۲۹ گدا تا اول میزان سال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملهٔ گدایان جمع آوری شده ۱۴۱۲۷ زن، ٦۵۴۸ مرد و بقیه ۲۱۳۵۴ طفل می باشند. در میان این اطفال ۷۱ تن آن بی سرپرست می باشند. اطفال بی سرپرست بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریست که سلسله توزیع کمک های نقدی و مواد خوراکی ماهانه برای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.





# کابل سروبي ولسوالی کې د لس میګاواټه لمریزې برېښنا پروژه پرانستل شوه

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمريز کال د وږي مياشتې په ۲۸مه نېټه د کابل په سروبي ولسوالی کې له نغلو بند سره نږدې د لس مېګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژې د جوړولو چارو پرانيسته وکړه.

په دغو مراسمو کې د رياستالوزراء پر اقتصادي مرستيال سربېره د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست ملا عبداللطيف منصور او يوشمېر نورو امارتي مسوولينو هم حضور درلود.

محترم ملا صاحب په همدې مناسب جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وويل، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی، دلته يې عزت خوندي دی او همدا يې د پېژندنې او هويت سمبول دی. همدا لامل دی چې اسلامي امارت د تېرو ډېرو نظامونو برعکس د دې ځوربدلي ولس د خدمت او د هېواد د آبادۍ لپاره ژمن او متعهد دی.

محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت دا درک کړې ده چې د پياوړي اقتصاد درلودو لپاره صنعت او د صنعت د پرمختګ لپاره برېښنا تر ټولو مهمه ده. همدې موخې ته د رسېدو لپاره اسلامي امارت په کور دننه د برېښنا توليد په خپلو لومړيتوبونو کې نيولی او په ټولو پانګوالو يې غږ کړی، چې په کور دننه د برېښنا توليد په برخه کې پانګونه وکړي.

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه: «د همدې هڅو په دوام دا دی نن د لس مېګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژې د پيل شاهدان يو. د برېښنا د توليد په برخه کې به د افغانستان اړتيا ته په کتو دا پروژه کوچنۍ ښکاري، خو ما ته خودکفايي ته د رسېدو په برخه کې ډېره مهمه ده. دا د دې ښکارندويي کوي چې موږ خودکفايي ته د رسېدو په برخه کې لس مېګاواټه د نورو له احتياجه خلاص شوو.»

د غونډې په پای کې محترم ملا صاحب وويل اسلامي امارت د برېښنا اهميت ته په کتو وپتېيله چې له ترکمنستان څخه د راتلونکي ۵۰۰ کيلو ولټ لين پروژې د چارو بشپړولو قرارداد د يو کال په بدل کې افغان انوېسټ شرکت ته ورکړي، چې په دې سره به افغانستان ته د سلګونو مېګاواټه برېښنا د انتقال زمينه برابره او په کلني ډول به ۲۰۰ ميليونه ډالره سپما شي.

محترم ملا صاحب يوځل بيا پر کورنيو او بهرنيو پانګوالو غږ وکړ چې د افغانستان په بيارغونه کې برخه واخلي او دلته له رامنځته شوو اقتصادي فرصتونو څخه استفاده وکړي.

د يادونې وړ ده چې د لس ميګاواټه لمريزې برېښنا د توليد دغه پروژه د اسلامي امارت په ملاتړ د خصوصي سکټور له لوري د يو کال په موده کې بشپړېږي.



# نگاۀ بر پیشرفت ها در سکتور برق از سوی امارت اسلامی

نویسنده: هدایت الله واحدی

## مقدمه

برق یکی از مهم ترین انرژی های پاک است که می تواند برای یک اقتصاد در حال توسعه اهمیت بسزایی داشته باشد. برق همان انرژی است که ما از آن برای تولید حرارت، نور و دادن نیرو به دستگاه های کار استفاده می کنیم. برق از روشهایی گونا گون مانند؛ انرژی آفتابی، آبی، طبیعی و انرژی باد بدست می آید. برق جزء اصلی تکنالوژی مدرن است و بدون آن، بیشتر چیزهایی که هر روز از آنها استفاده می کنیم، نمی توانند کار کنند. بالاخره بدون برق نمی توان به زنده گی تمام عیار امیدوار بود. امروزه تمامی اکتشافات و پیشرفت های چشمگیری در تمامی ابعاد حیات جوامع بشری که مشاهده می شود، مجزا از کار برد این انرژی نمی باشد. با توجه به اهمیت شایانی که برق در زنده گی نوع بشر دارد، امارت اسلامی جهت داشتن این عنصر مهم و با اهمیت و استفاده بهتر از آن در ابعاد مختلف به ویژه مسایل اقتصادی(صنعتی شدن) پلان های روی دست داشته که با تطبیق آن ان‌شاءالله به اهداف شامخ خود در عرصه‌های گوناگون فایق خواهیم شد، که در این نوشته نگاۀ اجمالی بر اهمیت اقتصادی برق و کارکرد های امارت اسلامی در این مورد خواهیم داشت.

## اهمیت اجتماعی و اقتصادی انرژی برق

بدون شک برق یکی از اکتشافاتی است که زنده گی روزمره همه افراد در کره زمین را تغییر داده است. برق جزء اصلی تکنالوژی مدرن است و بدون آن بیشتر چیزهایی که هر روز از آنها استفاده می کنیم، نمی توانند کار کنند. برق هم اکنون بخشی از زنده گی روزمره ما شده است و نمی توان به دنیایی بدون برق فکر کرد. برق اکنون بخش مهمی از خانه‌ها و صنایع است. تقریباً تمام دستگاه های موجود در خانه ها، مشاغل و صنایع با برق کار می کنند. در منازل از برق برای اجرای کارآمد وسایل مختلفی مثل تلویزیون ، یخچال، پکه، لپ تاپ و سایر لوازم خانگی برقی استفاده می شود. روشنایی یکی دیگر از مزایای برق است. برق یک عنصر بس مهم در دنیای معاصر نسبت به هر محصول مصرفی دیگر از اهمیت ویژه‌ای برخوردار بوده، زیرا بنیاد هر کاری از تولید فابریکه‌های صنعتی شروع تا اطلاع رسانی، فعالیت‌های تجاری، کارکردهای امنیتی و فعالیت‌های دیگر اقتصادی و اداری همه بر انرژی برق استوار است. بناء چرخه‌ی اقتصاد هر کشور مرتبط به تولیدات انرژی برق آن کشور می‌باشد. هرگاه انرژی برق فراوان و ارزان باشد، سرمایه گذاری در عرصهٔ احداث فابریکه‌ها رونق می‌یابد. همچنین فابریکه‌های بیشتری شروع به فعالیت نموده تولیدات را افزایش می‌دهد. موجودیت فابریکه‌های تولیدی بیشتر، از یک طرف ظرفیت تولیدات داخلی را بلند برده و رشد اقتصادی کشور را ارتقأ می دهد، از طرف دیگر این فابریکه‌ها باعث ایجاد فرصت‌های شغلی شده منابع انسانی بیشتری را به کار می گیرد. با این کار گراف بیکاری در کشور پایین آمده و مشکل فقر فراگیر در میان مردم کاهش می‌یابد. پس همان‌گونه که مشکل بی برقی باعث تعطیل فابریکه‌ها و فعالیت‌های تجارتی می‌شود هم‌چنان دسترسی به آن در رشد و ارتقای اقتصاد کشور نقش بارزی را دارا می‌باشد.



## مکثی بر منابع انرژی تولید برق در کشور

بی تردید افغانستان از ثروتمندترین کشور ها در عرصه داشتن منبع بزرگ انرژی می‌باشد. زیرا این کشور با داشتن آب‌های فراوان بزرگترین ظرفیت اعمار سدهای آبی و بندهای آبگردان را دارا بوده و از طرف دیگر ذخایر پنهان در دل کوه های این کشور منبع غنی در جهت تولید انرژی پنداشته می‌شود. افغانستان در حوزه‌ی آبی یکی از غنی‌ترین کشور ها در منطقه است. گرچه افغانستان تا کنون هیچ حق آبه‌ای دریافت نکرده است. با این حال اگر این آب‌ها به گونه‌ی درست مدیریت شوند و منصفانه از این حق آبه‌ها با در نظر داشت اصل حاکمیت ملی و ضرورت حقوقی، بندهای تولید انرژی اعمار گردد؛ می‌تواند نیاز انرژی برق در کشور را تکمیل نماید. همچنان استفاده از زغال سنگ، یورانیوم، نفت و گاز جهت تولید انرژی برقی در دنیا یک امر معمول می باشد. اما در افغانستان یک بخش بزرگ این منابع دست ناخورده مانده و بخش دیگر آن به طور اغلب در نظام های گذشته، غیر تخصصی استخراج و به بازار سیاه عرضه می گردید و یا هم به بهای ناچیز به کشور های همسایه صادر می گردید. ظرفیت تولید بالقوهٔ برق بیشتر بوده که از منابع آبی، زغال سنگ، گاز طبیعی و از نفت خام به دست میاید. همچنان طبق آمار های مرکز بین المللی انرژی، افغانستان در یک سال حدود ۳۰۰ روز آفتاب دارد که به این اساس می شود در هر ده متر مربع یک کیلو وات انرژی آفتابی تولید کرد. همچنین باد های موسمی و فصلی در نقاط مختلف این کشور فرصت تولید انرژی برق بادی را فراهم می‌کند. اما متاسفانه افغانستان علی‌رغم این همه منابع عظیم و فراوان انرژی برق در منطقه، از مدت‌ها بدین سو متکی به برق وارداتی بوده و در حدود ۲۰ فیصد از انرژی برق مورد نیاز خود را از منابع داخلی تولید می‌کند و متباقی آن (۸۰ فیصد) را از کشور های همسایه به دست می آورد.



## امارت اسلامی و کارکرد ها در این بخش

با حاکمیت امارت اسلامی افغانستان در سطح کشور کار بی پیشنه‌ای پروژه های بزرگ زیربنایی در همه عرصه ها صورت گرفته که بخش تولید انرژی نیز در زمره آن می باشد. قابل یاد آوریست که افغانستان ظرفیت تولید اضافه تر از ۳۰۰ هزار میگاوات برق را دارد. از این جمله ۲۲۲ هزار میگاوات آن آفتابی، ٦٦هزار میگاوات بادی، ۲۳ هزار میگاوات آبی و ٤ هزار میگاوات برق بایومس می باشد. در این سکتور با روی کار آمدن امارت اسلامی پروژه های تکمیل شده و تحت کار عبارت اند از: تکمیل فاز دوم بند کجکی، تکمیل کار باقی مانده بند کمال خان در آینده نزدیک، آغاز کار عملی بند بخش آباد که این بند با داشتن ۵۰ کیلو متر طول از جناح راست و ۵۲ کیلو متر از سمت چپ کار بازسازی تونل های انحرافی آن جریان دارد، همچنان آغاز امور باقی مانده بند شاه و عروس، آغاز پروژۀ تولید برق بادی به ظرفیت ۲۰۰ میگاوات در هرات در آینده نزدیک، آغاز انتقال ۵۰۰ کیلو ولت برق از شمال به جنوب کشور، در آینده نزدیک آغاز کار بند های سلطان ابراهیم در سرپل، آغا جان در ارزگان، بند دوم سروبی، مناگی کنر و تکمیل بند توری زابل فعالیت های می باشد که امارت اسلامی جهت بهبود وضعیت سکتور برق در کشور و انجاء خدمات بهتر به مردم و به منظور رشد صنعت و سایر امور انجام داده است، باید گفت که کار اعمار فاز دوم بند کجکی در هلمند که از سال ها به این سو آن آغاز گردیده ولی در اثر فساد و عدم مدیریت کار آن نیمه تمام مانده بود. با رویکار آمدن امارت اسلامی به امور آن سرعت داده شد و در ظرف ۱۱ ماه کار آن تکمیل و در ۵ اسد سال ۱۴۰۱ از جانب محترم ملا عبدالغنی برادر آخند به بهره برداری سپرده شد. با تکمیل این پروژه ظرفیت برق بند کجکی از ۵۱ میگاوات به ۱۵۱ افزایش یافته است و علاوه از هلمند، کندهار نیز از برق آن مستفید گردیده است. بعد از افتتاح فاز دوم بند کجکی توفقنامۀ امور باقی ماندۀ و انکشافی بند کمال خان با شرکت انکشاف ملی به امضاء رسیده است. به اساس این توافقنامه شرکت انکشاف ملی تا پایان سال جاری خورشیدی امور باقی ماندۀ بند کمال خان را به اکمال خواهد رساند. همچنان برای تکمیل کار باقی ماندۀ بند بخش آباد ولایت فراه امارت اسلامی متعهد است و در آینده نزدیک کار آن به اکمال می رسد. به همین شکل محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ ۲۸ ام سنبله امور احداث پروژۀ تولید ده میگاوات برق آفتابی را در نزدیکی بند نغلو ولسوالی سروبی افتتاح نمود. محترم ملا صاحب در مراسمی که به همین مناسبت تدویر گردیده بود، حین سخنان خود گفت، امارت اسلامی این را درک نموده که به خاطر داشتن اقتصاد قوی، برق برای صنعت و پیشرفت آن مهم و ضروری می باشد. امارت اسلامی جهت رسیدن به این هدف، تولید برق را در داخل کشور در اولویت های خود قرارداده و به تمامی سرمایه گذاران اذعان داشته، که در بخش تولید برق در داخل کشور سرمایه گذاری نمایند. پروژه تولید ده میگاوات برق آفتابی به حمایت امارت اسلامی از سوی شرکت خصوصی در ظرف یکسال با سرمایه گذاری حدود ۷۰۰ میلیون افغانی تکمیل می شود، که موازی با آغاز بازسازی و اعمار بند های برق و سایر انواع تولید برق برای تعداد کثیری از شهروندان ما در بازسازی و اعمار این پروژه ها زمینه کار فراهم گردیده و می گردد، که با آن سطح بیکاری کاهش می آبد و عاید سرانه افزایش



پیدا می کند، این موضوع اثرات عمیقی بر اقتصاد خانواده ها داشته که به نحوی از انحاء سبب توسعه اقتصادی می شود. به همین شکل از سوی امارت اسلامی در حصه تولید برق آبی فرصت های سرمایه گذاری در پروژه های ذیل فراهم گردیده است: بند پاشدان، پروژه آبیاری و برق گمبیری، بند دوم سروبی، بند شاه توت،پروژه آب آشامیدنی، آبیاری و تولید برق دهله، همچنان در بخش تولید برق آفتابی فرصت های سرمایه گذاری در پروژه های ذیل موجود است: پروژه تولید برق آفتابی نغلو، پروژه تولیدی برق آفتابی لغمان، غور، نیمروز، پکتیکا، خوست، فراه و دایکندی. روی همرفته در بخش تولید برق بادی فرصت های سرمایه گذاری در پروژه های مانند برق بادی مزار، برق بادی پروان و پروژه برق بادی هرات موجود می باشد. هکذا در پروژه های ۱۰ میگاوات بایوگاز در کابل، ۱۰ میگاوات بایوگاز در مزار،۱۰ میگاوات بایوگاز در هرات و۱۰ میگاوات بایوگاز ننگرهار امارت اسلامی فرصت های سرمایه گذاری را به وجود آورده است، که سرمایه گذاران داخلی و خارجی با استفاده از فرصت های خوبی



که به وجود آمده می توانند در این بخش ها سرمایه گذاری نمایند. وزارت آب و برق به منظور حل مشکلات برق در کشور، پلان های وسیع را در آینده روی دست دارد و پروژه‌های تولید برق را در اولویت‌های کاری خود قرار داده است، چنانچه ساخت بند برق سروبی دوم و باغ دره، پروژه برق آفتابی نغلو و برق سولری ۱۵ میگاوات کندهار نیز در برنامه‌های این وزارت قرار دارد، که اکنون کار عملاً بالای برخی آن جریان دارد، سروی و نقشه برداری بند برق سروبی دوم نیز تکمیل شده است. مصارف مجموعی بند سروبی دوم ۳۰۰ میلیون دالر تخمین شده است. این بند ظرفیت تولید ۱۸۰ میگاوات برق را دارد. همچنان وزارت آب و برق امارت اسلامی ۱۳۲ پروژه را به سرمایه گذاران پیشنهاد نموده و تا اکنون دست‌کم ۲۰۰ شرکت برای اشتراک در آن علاقمندی نشان داده اند. بناً از کارکرد ها و فعالیت های که از سوی امارت اسلامی در بخش سکتور برق صورت گرفته نشاندهندۀ سعی و تلاش و تعهد عمیق امارت اسلامی جهت خدمت گذاری شاید و باید به منظور رشد و توسعه اقتصادی، خدمت گذاری به مردم می باشد که ان‌شاءالله با ادامه این تلاش ها در آینده نه چندان دور با طرح برنامه های جامع از نقطه نظر سکتور برق از احتیاج دیگران رهایی خواهیم یافت و به خودکفایی خواهیم رسید.



## نتیجه گیری

نتایج حاصله از مفاهیم بالا مبین آن است که کشور عزیز ما افغانستان خوشبختانه منابع سرشاری از انواعی انرژی را دارد، که می تواند، نه تنها کشور ما را از لحاظ برق خودکفا سازد بلکه یکی از صادر کننده گان بزرگ در این راستا باشد. بر اساس مطالعات و کاوش ها افغانستان ظرفیت حدود ۳۰۰ هزار میگاوات برق دارا است، این برجسته گی هم ثبوتی آشکاری بر ادعای فوق است. ولی بدبختانه در طول سالیان متمادی مداخلات کشور های مختلف استعماری، همچنان عدم استقلالیت، اشغال، اختناق، عدم تعهد حاکمان دست نشانده توسط اجنبی‌ها که اغراض سؤ مختلف در کشور ما داشتند و عدم موجودیت مدیریت سالم به این بخش توجهی صورت نگرفته است و با وجود داشتن این منابع سرشار تا هنوز از ابتدایی ترین خدمات انرژی برق(روشنایی منازل) هم مستفید نمی باشیم و محتاج به برق وارداتی از کشور های همسایه هستیم. ولی با رویکار آمدن امارت اسلامی و کارکرد های دو ساله آن شهروندان ما امیدوار به فردای مملو از رفاه و آسایش گردیده و امید است با مساعد شدن فضای بهتر عاری از مداخلات و بهانه جوییِ‌های کشور های که عقیده و باور سؤ به این نظام دارند، اهداف بلندی که امارت اسلامی جهت خدمت گذاری به مردم و کشور دارد به شکل شاید و باید جامۀ عمل بپوشد و امید مردم به فردای درخشان تحقق یابد و افغانستان در آینده نه چندان دور با امکانات دست داشته و فرصت های موجوده در حصه منابع غنی مخصوصاً مهار نمودن آب و بازسازی و احداث بند های برق و سایر تأسیسات تولید برق(آفتابی، بادی، گاز طبیعی و حرارتی به اتکای ذغال سنگ فراوان) این نقیصه بزرگ که میراث دولت های پیشین است، مرفوع گردد و کشور عزیز ما افغانستان از بابت انرژی به یک محدوده جغرافیایی زراعتی و به ویژه صنعتی مبدل و یکی از صادر کننده ای عمده انرژی در جهان شود.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سراى کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۷.۹۰ | ؋۷۸.۰۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋۲۵۶ | ؋۲۵۷ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۵۸ | ؋۱,٦۰ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۸٤,۰۰ | ؋۰ ۸٤,۵۰ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۱,۲۰ | ؋۱,۳۰ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۹۸۰ | ؋۱۰۲۰ |
| ۱ | انگليسي پونډ | ؋۱۰۲,۸۰ | ؋۱۰۳,۰۰ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۲۳,۵۵ | ؋۲۳,٦۵ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۲٤,۳۰ | ؋۲٤,٤۰ |
| ۱ | چيني ين | ؋۱٦,۵۰ | ؋۱٦,٦۰ |